بسم الله الرحمن الرحيم

# جریده میزان

ستره محکمه

د سترې محکمې کاري څرګندویه خپرونه

د تأسیس کال ۱۴۴۳ هـ ق ۱۴۰۰ هـ ش

سه شنبه ۱۶ چنګاښ ۱۴۰۵ هـ ش | ۲۱ محرم الحرام ۱۴۴۸ هـ ق | ۷ جولای ۲۰۲۶ م | مسلسله شمیره (۱۳۹)

**د هستۍ نظام پر عدل ولاړ دی**

عادل خدای (جل جلاله) په سورة الرحمن کې فرمايي:

ژباړه: الله (جل جلاله) آسمان پورته کړی او تله یې ایښې ده، ترڅو تاسو په تله کې تېری ونه کړئ.

زیاتره اسلاف له دې نه دا استنباط کوي، که په کائناتو کې د حق او عدل ساتنه ملحوظه نه وای نو د نړۍ، نړۍ والو او ټولو کائناتو دا ټول انتظام، ساتنه او انضباط سره ګډوډ کېده.

تفسير کابلی، ج ۲، ص ۱۳۰۳

## د سترې محکمې د جزا دېوان عمومي رئیس محترم مفتي عتیق الله (درویش) ځانګړې مرکه

**لومړۍ پوښتنه:** محترم مفتي درویش صاحب! د سترې محکمې اساسي مسؤولیتونه څه دي؟

**ځواب:** تر ټولو لومړی تاسو ته او ستاسو په وساطت د دې مرکې لوستونکو ته: السلام علیکم ورحمة الله وبرکاته! ستاسو د پوښتنې په ځواب کې، چې د سترې محکمې اساسي مسؤولیتونه څه دي؟ باید ووایم، چې ستره محکمه، د اسلامي نظام له مهمترینو ارکانونو څخه ده، چې اصلي مسؤولیت یې د اسلامي شریعت او نافذه قوانینو پر بنسټ د الهي عدالت تأمین او د خلکو د حقونو ساتنه ده، د ظلم مخنیوی او په ټولنه کې د شرعي قانون حاکمیت دی، د افغانستان اسلامي امارت د محترم مشرتابه لخوا سترې محکمې او د سترې محکمې ټولو ماتحت محاکمو ته دنده سپارل شوې، چې د افغانستان په هره سیمه کې د مراجعینو دوسیو ته د اسلامي شریعت د احکامو مطابق په ټاکلي وخت رسیدنه وکړي، له ظالمانو د مظلوم حق واخلي او مجرمینو ته د دوی د جرم مطابق سزاګانې ورکړي؛ الحمدلله د دغه کار په نتیجه کې، تاسو او د افغانستان ټول ولس شاهد دی، چې د اسلامي امارت له فتحې وروسته په ټول ملک کې د پام وړ مثبت بدلون راغلی دی، څوک هم د جرم ترسره کولو جرئت نه کوي او هر څوک په ډاډه زړه خپل مشکلات او شخړې که هغه حقوقي وي که جزائي وي، مربوطه محاکمو ته وړاندې کوي.

**دویمه پوښتنه:** مفتي صاحب محترم تاسو وویل، چې ټول هېوادوال د خپلو حقونو د ترلاسه کولو لپاره محاکمو ته مراجعه کوي او محاکم د دوی دوسیو ته په ټاکلي وخت د اسلامي احکامو په رڼا کې رسېدنه کوي، زمونږ پوښتنه داده، چې که یو څوک د محکمې په پرېکړه راضي نه وي یا شکایت ولري، آیا سترې محکمې د دغه کسانو د شکایت اورېدو لپاره څه اسانتیاوې رامنځته کړې دي؟

**ځواب:** د افغانستان اسلامي امارت سترې محکمې حتی الامکان د مراجعینو لپاره ډېرې زیاتې اسانتیاوې رامنځته کړې دي، داسې اسانتیاوې چې اصلاً په کې د چا د حق د ضایع کېدو وېره نشته، د مثال په ډول، ستره محکمه تر خپل اثر لاندې درې ډوله محاکم لري (د تمیز محاکم، مرافعه محاکم او ابتدائیه محاکم) کله چې یو مراجعه کوونکی ابتدائیه محکمې ته عارض شي او خپله موضوع ورسره شریکه کړي، ابتدائیه محاکم په ډېر دقت سره د جانبینو له پوره معلوماتو او دقیقې پلټنې وروسته یاده موضوع فیصله کوي، که چېرته یو له جانبینو د شرعي دلایلو په لرلو سره، په یاده فیصله قانع نشي او قناعت پرې ونه کړي، دغه نه قناعت کوونکي ته د مرافعه غوښتنې حق ورکړل شوی دی، هغه کولای شي، چې په ټاکلې موده کې مرافعه محکمې ته عارض شي او هغه شرعي دلایل چې له امله یې نوموړی د ابتدائیه محکمې پر پرېکړه راضي نه دی، له مرافعه محکمې سره د اصولو له مخې شریک کړي، اړوند مرافعه محکمه یې دوسیه ګوري، که فرضاً د ابتدائیه محکمې په پرېکړه کې څه نواقصات موجود وي، نو مرافعه محکمه بیا دغه د ابتدائیه محکمې دوسیه نقض کوي او ابتدائیه محکمې ته یې د بیا کتنې حکم کوي، همدغه شان که د مرافعې پر فیصله یو څوک قناعت ونه لري او د خپل حق د ضایع کېدو وېره ولري، دوی ته هم د تمیز غوښتنې حق ورکړل شوی دی او تمیز هم د دوی د عریضې مطابق، د دوسیې په اړه لازم اجراآت کوي، حاصل دا چې د اسلامي امارت په محاکمو کې موږ په پوره اطمینان سره ویلای شو، چې حق حقدار ته رسېږي.

په دې سربېره هېوادوالو ته د اقتضائي تفتیش فرصت هم ورکړل شوی دی، که فرضا څوک د مربوطه محکمې له قضائي غړو ناراضه وي، یا شکایت ولري، یا یې دوسیه له مؤجه دلایلو پرته ځنډېږي یا بل مشکل ولري، نو عارض کولای شي، چې د سترې محکمې عالي مقام ته خپله عریضه وړاندې کړي او خپله ستونزه ورسره شریکه کړي، نو د سترې محکمې عالي مقام هم د دوی موضوع، په ځانګړې توګه د تفتیش عمومي ریاست ته راجع کوي او د تفتیش عمومي ریاست لخوا ټاکلی پلاوی دغه موضوع په بشپړ جدیت او دقت سره څېړي او د مراجعه کوونکي ستونزې ته رسېدنه کوي.

**درېیمه پوښتنه:** مفتي صاحب محترم هره اداره د خپلو چارو د ښه ترسره کولو لپاره له نورو ادارو سره همغږۍ او همکارۍ ته اړتیا لري، ستره محکمه له نورو اړوند امارتي ادارو سره د همغږۍ په برخه کې څه لاسته راوړنې لري؟

**ځواب:** دقیقا، د یوه نظام اداري، لکه د ځنځیر حلقې له یو بل سره تړلې دي او ځینو موخو ته د رسېدو لپاره د اړوندو ادارو ګډې همکارۍ او د دوی ترمنځ قوي همغږۍ ته اړتیا وي، سترې محکمې هم دغه اړتیا ارزښت ته په کتو، د خپلو پرېکړو د تطبیق، د متهمینو د جلب یا احضار او نورو اړوند چارو د ترسره کولو لپاره له ټولو امارتي ادارو سره بشپړه او قوي همغږي لري، په مرکز او ولایتونو او آن ټولو ولسوالیو کې د محاکمو مسؤولین په اونۍ کې، یا په دوو اونیو کې یو ځل حتماً د امنیتي ارګانونو، امر بالمعروف، د احکامو او فرامینو د تطبیق او نظارت، عدلیې او نورو امارتي ادارو له مسؤولینو سره د همغږۍ ناستې کوي او الحمدلله له یو بل سره قوي همغږي او همکاري لري.

**څلورمه پوښتنه:** مفتي صاحب محترم یوه بله موضوع د زندانیانو ده، آیا محاکم له خپلو فیصلو وروسته د زندانیانو د برخلیک د معلومولو لپاره څه طرزالعمل لري؟ مثلا: داسې خو به نه وي پېښه شوې، چې یو کس د محکمې له حکم ډېر وخت زندان کې پاتې شي؟

**ځواب:** تاسو ډېرې ښې پوښتنې ته اشاره وکړه، د افغانستان اسلامي امارت محاکم مکلف شوي، البته د نورو امارتي ادارو د مسؤولینو په همکارۍ، چې وخت پر وخت له زندانیانو څخه لیدنې وکړي، د زندانیانو د وضعیت، د دوی دوسیې، روغتیایي خدمات، ددوی د زده کړو بهیر او د نورو مواردو، له نږدې څخه څارنه وکړي، دا د دې لپاره که کوم زنداني مشکلات ولري، چې مشکلات یې له اړوند مرجع سره شریک او حل شي، تاسو بهتره پوهېږئ، چې زندانیان هم زموږ او ستاسو هېوادوال دي، که څه هم دوی جرم ترسره کړی او د هغه جرم مطابق د محکمې د پرېکړې له مخې زنداني دی؛ خو دوی ته بیا هم په زندان کې داسې شرایط مساعد شوي، چې له زندان تېرولو وروسته د اصلاح شوي وګړي په حیث ټولنې ته وړاندې شي، مثلا: دوی ته د دیني او مسلکي زده کړو زمینه برابره شوې، روغتیا ته یې پاملرنه کېږي، صحیح خوراک ورکول کېږي او دېته ورته نور ټول هغه حقونه چې اسلام ورته ټاکلي په نظر کې نیول شوي، یعنې زما د خبرو خلاصه داده، چې د اسلامي امارت زندانونه د اصلاح مرکزونه دي او د زندانیانو د اصلاح لپاره په کې هر ډول امکانات او اسانتیاوې موجودې دي، په دې هکله به له تاسو سره د یوه زنداني خاطره شریکه کړم، دلته په کابل کې په دارالتأدیب محبس کې یوې کورنۍ هغه ماشوم، چې له حبس تېرولو څخه وروسته کور ته استول شوی و، دوباره یې کورنۍ (مور او پلار) محبس ته راوستلو او جالبه داوه، چې یو بل بچی یې هم ورسره راوستلی و او د محبس له مسؤول نه یې وغوښتل، چې دغه دواړه ماشومان چې یو په جرم کې نیول شوی و او له حبس تېرولو وروسته خلاص

پاتې برخه ص ۲

**د قضاء تاریخ له نبوي دورې څخه تر اسلامي امارته**

**د عمر فاروق ﷺ په دوره کې قضاء:**

**پنځه لسمه برخه:**

هېره دې نه وي، چې د قاضي لپاره ډېره مهمه ده، چې همدې خبرې ته ځانګړې پاملرنه وکړي، لکه په دې قول کې چې اشاره ورته شوې:

«تر څو شریف (د مقام خاوند) ستا لخوا د طرفدارۍ او ظلم تمه پیدا نه کړي او کمزوری ستا له انصافه ناهیلی نه شي»: ځکه که د مقام څښتن ته د قاضي لخوا د ظلم تمه ورکړل شي، د مقابل کمزوري خصم زړه ماتېږي او له عدالت څخه ناهیلی کېږي، یا ښایي چې د همدې تمې څخه په ګټې اخیستنې د مقام څښتن چالاکي وکړي او کمزوری خصم یې ونه توانېږي، چې په دلیل سره خپل حق ثابت کړي، دلته قاضي د هر څه لامل شو؛ ځکه دکېناستو او مجلس په برخه کې یې د قوي او ضعیف ترمنځ مساوات ونه کړ، همدارنګه د دې تهمت هم په قاضي باندې کېدی شي، چې ګواکې یو اړخ ته یې میلان ډېر دی، که څه هم په کلکه باندې قاضي له دې څخه منع شوی دی.

اخذلیک: د قضاء تاریخ له نبوي دورې څخه تر اسلامي امارته، ۶۹ صفحه، تألیف: قاضي القضات شیخ عبدالحکیم حقاني صاحب/ ژباړن: مولوي عبدالرحیم راشد

## د سترې محکمې د جزا دیوان...

شوی و او یو بل چې هېڅ جرم یې نه درلود، هغه یې هم راوستی و او غوښتنه یې داوه چې دلته یې محبس ته دوباره راولي په محبس کې یې وساتي، دوی وویل چې قسم دی، که به نور اولادونه زموږ دومره احترام کوي لکه دغه بچی چې له محبس نه راخلاص شوی، د مور او پلار لاسونه ښکلوي، د اوداسه اوبه ورته تیاروي او د ټولې کورنۍ په ځانګړې توګه (مور او پلار) دومره احترام کوي، چې موږ یې دېته وهڅولو چې یو بل بچی مو هم ورسره راوستلو تر څو دلته په محبس کې همدغه شان تربیه او روزنه یې وشي، داسې نورې بېلګې هم شته، خلاصه دا چې الحمدلله د اسلامي امارت زندانونه د اصلاح او روزنې مرکزونه ګرځېدلي دي.

**پنځمه پوښتنه:** مفتي درویش صاحب محترم راته ویلای شې، چې د اسلامي امارت محاکمو په شاوخوا څلورو کلونو کې څومره دوسیو ته رسېدنه کړې ده؟

**ځواب:** د اسلامي امارت محاکمو د حدودو او تعزیراتو په ګډون په تېرو شاوخوا څلورو کلونو کې پنځه لکه، څلور اویا زره، شپږ سوه او یوویشت (۵۷۴۶۲۱) حقوقي او جزائي دوسیو ته رسېدنه کړې ده، چې په دې کې تقریبا (۶۸۰۰۰)اته شپیته زره دوسیې د ښځو د حقونو اړوند دي؛ په دې سربېره محاکمو په همدې موده کې پنځه لکه، درې شپېته زره، یو سل او څلور اتیا (۵۶۳۱۸۴) بېلا بېلې وثیقې هم اجرا کړې دي.

**شپږمه پوښتنه:** مفتي صاحب تاسو د حدودو او تعزیراتو یادونه وکړه، د اسلامي امارت د محاکمو لخوا د حدودو د تطبیق پر مهال اکثراً نړیوال ارګانونه نیوکه کوي، چې ګواکي دا د بشر حقونو ضد عمل دی، تاسو د دوی دغه څرګندونو ته څه ویل غواړئ.

**ځواب:** د اسلام دښمنان او ځینې نړیوال ارګانونه یوازې د الهي احکامو، لکه: قصاص، حدود، او تعزیراتو له تطبیق سره مخالفت نه کوي؛ بلکې دوی په اصل کې له اسلام سره دښمني کوي، دوی غواړي چې په نړۍ کې د اسلامي احکامو او قوانینو پر ځای د دوی په لاس جوړ شوي ناقص بشري قوانین تنفیذ کړي، په اسلامي ټولنو کې امن او عدالت دوی نه غواړي،او حالانکې الله تعالی په خپل مبارک کلام کې د دوی دغه مخالفتونه مسلمانانو او پیغمبر ته ښکاره کړي او وایي:

ترجمه: یعني یهود او نصاری تر هغې له مسلمانانو څخه نه راضي کیږي ترڅو چې د دوی د دین پیروي ونه کړي.

[سورت بقره/ ۱۲۰ آیت]

د خوشحالۍ خبره داده چې الحمدلله ټول مسلمه امت په ځانګړي ډول افغانانو د دوی اصلیت پېژندلی دی، دوی هیڅکله په هیڅ اسلامي ټولنه کې، د مسلمانانو پر ضد د ظلم او زیاتي، رد او مخالفت نه دی کړی؛ بلکې دوی هڅه کړې چې خپل ظلمونه، وژنې، بندیزونه او نورو فسادونه مسلمانانو ته متوجه کړي.

د اسلام مبارک دین د ټولنې د خیر لپاره نافذ شوی، او زموږ عقیده او ایمان دادی چې په ټولنه کې د امن او عدالت د تأمین یوازینۍ لار، د اسلامي احکامو بشپړ تطبیق دی، نو له دې وجې د سترې محکمې محترم عالي مقام، خپلو ټولو ماتحت محاکمو ته هدایت کړی، چې ټولې راجع شوې دوسیې دې په غور او دقت سره ګوري، دوسیو ته د رسېدنې پر مهال، د جانبینو ټول اسناد ګوري، او د دوی خبرې د دې اوري، وروسته په ډېر جرئت د اسلامي احکامو په رڼا کې دې خپلې پرېکړې صادروي.

**اوومه پوښتنه:** مفتي صاحب محترم د خپرونې په وروستۍ برخه کې غواړم د اسلامي امارت د محاکمو د قضائي غړو په اړه پوښتنه وکړم، په محاکمو کې کسان تر ډېره د کومو وړتیاوو په اساس ګمارل شوي دي، او ګمارل کیږي؟

**ځواب:** د اسلامي امارت د سترې محکمې د محترم عالي مقام د هدایت په اساس په ټولو محاکمو کې، کسان د اهلیت، مسلک، تجربې، دیانت او نورو مثبتو ځانګړتیاوو په اساس ګمارل شوي دي، او ګمارل کیږي، مثلاً: په ټولو محاکمو کې قاضي صاحبان، مفتي صاحبان او قضائي محررین، اکثریت هغه علماء کرام دي، چې په قضاء، افتاء او نورو شرعي برخو کې یې کلونه کلونه زده کړې او تخصص یې کړی، او یا د اسلامي امارت له فتحې مخکې یې د اسلامي امارت د محاکمو په عالي اداره کې عملاً د قضاء مسؤولیت ترسره کړی او تجربه لري، په دې سربېره موږ د محاکمو د قضائي غړو، د لا ښې روزنې او ظرفیت لوړونې لپاره، د قضائي زده کړو دوه ریاستونه لرو، چې یو یې په مرکز کې، او یو په جنوب لوېدیځ زون کې فعالیت لري، یوازې د مرکزي ریاست لخوا په شاوخوا څلورو کلونو کې د محاکمو (۳۶۵۴) درې زره،شپږسوه او څلور پنځوس قضائي غړو ته، د ظرفیت لوړونې لنډمهاله او اوږدمهاله، روزنیز پروګرامونه جوړ شوي، او دوی ته د مسلکي شیوخ کرامو او استادانو لخوا عملي او نظري روزنه ورکول کیږي، او په دغې مرحله کښې له دوی څخه دوه ځله امتحان او ازموینه اخیستل کیږي، چې یوځل په ابتداء کښې او دویم ځل، د روزنیز پروګرام په پای کښې، او بیا له دویمې ازموینې پس هغه څوک په کار ګمارل کیږي چې د دویمې ازموینې د هیئت لخوا تائید شي.

## د سترې محکمې د امنیتي او اجرائیوي چارو ریاست د نظامي محاکمو د امنیتي او اجرائیوي قطعاتو قوماندان څلورو ولایتونو ته رسمي سفر وکړ

د سترې محکمې د امنیتي او اجرائیوي چارو ریاست د نظامي محاکمو د امنیتي او اجرائیوي قطعاتو قوماندان الحاج حافظ حکمت الله آغا (ذهین)، د دغه ریاست د ملکي او نظامي قوماندانۍ د مسؤولینو په ملتیا، د روان ۱۴۴۸هـ ق کال د محرم الحرام میاشتې په ۱۱مه نېټه، درېیم زون (پکتیکا، پکتیا، خوست او لوګر) ولایتونو ته د سفر پر مهال د یادو ولایتونو د نظامي او ملکي محاکمو له رئیسانو او د یادو محاکمو د امنیتي او اجرائیوي قطعاتو له مسؤولینو او منسوبینو سره وکتل.

د سترې محکمې د امنیتي او اجرائیوي چارو ریاست اړوند د نظامي محاکمو د امنیتي او اجرائیوي قطعاتو قوماندان او ورسره مل هیئت درېیم زون ته د سفر پر مهال د یادو محاکمو له رئیسانو، مسؤلینو او مجاهدینو سره په لیدنو کې د امنیتي او اجرائیوي قطعاتو د چارو د لا بهبود په موخه تفصیلي بحث او خبرې وکړې.

دغه راز محترم الحاج حافظ حکمت الله آغا (ذهین) د ملکي او نظامي محاکمو د قطعاتو له چارو څخه څارنه وکړه، د یادو قطعاتو مسؤلینو او مجاهدینو ته یې د عالیقدر امیرالمؤمنین (حفظه‌الله تعالی) او ریاست الوزراء عالي مقام د فرمانونو، حکمونو او هدایاتو د تطبیق، د امیر د اطاعت، د جماعت لمانځه د پابندۍ، پر نبوي سنتو د صورت او سیرت د برابرولو، د اتحاد او یووالي، خپلو دندو ته د پاملرنې، له علماء کرامو سره د همغږۍ او له هغوی څخه د مشورې اخیستلو، په رسمي وختونو کې د نظامي لباس اغوستلو او له مراجعینو سره د نېک چلند ترسره کولو په برخه کې لازمي لارښوونې او سپارښتنې وکړې وویل، موږ او تاسو د محاکمو او علماء کرامو د حفاظت او ساتنې لپاره ټاکل شوي یو، باید هڅه وکړو، چې خپل راسپارل شوی مسؤولیت په ښه ډول ترسره کړو.

د یادونې وړ ده، چې د سترې محکمې د امنیتي او اجرائیوي چارو ریاست اړوند د نظامي محاکمو د امنیتي او اجرائیوي قطعاتو د قوماندان او ورسره مل پلاوي دغه څلور ورځنی سفر د محرم الحرام میاشتې په ۱۴مه نېټه پای ته ورسېد.

## په قضائي آزموینه کې د بریالیو علماء کرامو لپاره دوه میاشتنی روزنیز سیمینار پیل شو

د هغه علماء کرامو لپاره، چې د سترې محکمې له‌خوا په اخیستل شوې قضائي آزموینه کې بریالي اعلان شوي وو؛ د چهارشنبې په ورځ (۱۵/ ۱/ ۱۴۴۸هـ ق) نېټه د قضائي زده کړو عمومي ریاست لخوا دوه میاشتنی قضائي سیمینار پیل شو.

د دغه سیمینار د پیل په موخه جوړه شوې غونډه، چې د سترې محکمې اداري مرستیال محترم شیخ سخاءالله (سعید)، د سترې محکمې قضائي مرستیال محترم شیخ محمد قاسم (راسخ) او د سترې محکمې د مرکزي ریاستونو رئیسانو په کې ګډون درلود، د قرآنکریم د څو مبارکو آیاتونو په تلاوت پیل شوه.

وروسته د سترې محکمې اداري مرستیال محترم شیخ سخاءالله (سعید) صاحب د ناستې ګډونوالو ته ښه راغلاست ووایه زیاته یې کړه، د دغه سیمینار عمده موخه، بریالیو علماء کرامو ته د قضاء او افتاء په برخه کې عملي او نظري تخصصي روزنه ورکول دي.

محترم شیخ سعید صاحب وویل، په دغه قضائي سیمینار کې د محاکمو او قضاء ټولې چارې له ابتدائیه مرحلې (عریضې) څخه بیا تر وروستۍ مرحلې (فیصلې) پورې تشریح کېږي، له عمل مخکې علم او زده کړه اړینه ده، دلته هم باید دندې او کار ته له تللو مخکې د کار اړوند پوره پوهه ترلاسه کړو او شپه او ورځ پوره زحمت وباسو.

شیخ سعید صاحب وویل، د نظام قیام او بقاء په عدالت او یووالي کې ده او دا د محاکمو او قضاء دنده ده، د انسانانو د مال، عزت او سر ساتنه د اسلامي نظام له مهمو دندو څخه ده او د دې دندې سرته رسول په اسلامي نظام کې د قضاء له مسؤولیتونو څخه شمېرل کېږي.

د غونډې په دوام د سترې محکمې قضائي مرستیال محترم شیخ محمد قاسم (راسخ) صاحب وینا وکړه وویل، دا د شکر ځای دی، چې مسلمانانو او په ځانګړې توګه افغانانو ته الله تعالی عظیم نعمت (شرعي نظام) او امن نصیب کړی، د دغه نعمت شکر اداء کول په کار دي، د دغه نظام خدمت یو لوی امانت دی او که مو په سم ډول سرته ورساوه، نو نظام ته به مو لوی خیر رسېدلی وي.

محترم شیخ راسخ صاحب زیاته کړه، له تاسو ټولو مو هیله دا ده، چې درسونه په پوره پابندۍ ووایئ، ترڅو له جنتي قاضیانو څخه وګرځئ، حدیث شریف کې قاضیان درې ډوله ذکر شوي چې دوه یې دوزخیان او یو یې جنتي یاد شوی.

یاده غونډه د شیخ صاحب جان صاحب له‌خوا د دعاء په ویلو پای ته ورسېده.

## محاکم ولایت بامیان طی یک ماه علاوه بر رسیدگی به (۲۸۷) دوسیه، به تعداد (۱۳۳) قطعه وثایق را نیز اجرا نموده‌است

محاکم مرافعه، وثایق، ابتدائیه شهری و ابتدائیه ولسوالی‌های ولایت بامیان طی یک ماه (از ۱/ ۱۲/ ۱۴۴۷هـ ق الی ۳۰/ ۱۲/ ۱۴۴۷هـ ق) علاوه بر رسیدگی به (۲۸۷) دوسیه، به تعداد (۱۳۳) قطعه وثایق را نیز اجرا نموده‌است که جزئیات آن به شرح ذیل می‌باشد:

**در بخش حقوقی:**

در جریان یک ماه به تعداد (۲۱۹) دوسیه حقوقی وارد محاکم گردیده؛ در حالی که قبلاً نیز چندین دوسیه تحت دوران قرار داشت.

از آن جمله در رابطه به (۱۳۷) دوسیه قرار قضائی صادر شده، (۲۰) دوسیه فیصله شده، (۱۷) دوسیه مکتوبی مسترد گردیده و دوسیه‌های باقی‌ماندهٔ دیگر تحت کار می‌باشد.

**در بخش جزائی:**

در جریان یک ماه به تعداد (۹۱) دوسیه جزائی وارد محاکم گردیده؛ در حالی که قبلاً نیز چندین دوسیه تحت دوران قرار داشت.

از آن جمله در رابطه به (۵۶) دوسیه قرار قضائی صادر شده، (۵۱) دوسیه فیصله شده، (۶) دوسیه مکتوبی مسترد گردیده و دوسیه‌های باقی‌ماندهٔ دیگر تحت کار می‌باشد.

**در بخش وثایق:**

در جریان یک ماه در محاکم ولایت بامیان به تعداد (۱۳۳) قطعه وثایق مختلف النوع نیز اجرا گردیده‌است.

## د میدان وردګ ولایت محاکمو په یوه میاشت کې (۱۹۵) دوسیو ته پر رسېدنه سربېره، (۱۱۵) وثیقې هم اجرا کړې دي

د میدان وردګ ولایت مرافعه، ښاري ابتدائیه او د ټولو ولسوالیو ابتدائیه محاکمو په یوه میاشت کې (له ۱/ ۱۲/ ۱۴۴۷هـ ق څخه تر ۳۰/ ۱۲/ ۱۴۴۷هـ ق) نېټې پورې (۱۹۵) دوسیو ته پر رسېدنه سربېره، (۱۱۵) وثیقې هم اجرا کړې دي؛ چې جزئیات یې په لاندې ډول دي.

**په حقوقي برخه کې:**

په ټېره یوه میاشت کې (۱۵۰) حقوقي دوسیې محاکمو ته راجع شوې؛ په داسې حال کې چې مخکې هم یو شمېر دوسیې موجودې وې.

له دې جملې څخه د (۸۶) دوسیو په اړه قضائي قرارونه صادر شوي، (۲۴) دوسیې فیصله شوې، (۱۷) دوسیې مکتوبي مستردې شوې او پاتې دوسیې تر کار لاندې دي.

**په جزائي برخه کې:**

په ټېره یوه میاشت کې (۵۹) جزائي دوسیې محاکمو ته راجع شوې؛ په داسې حال کې چې مخکې هم یو شمېر دوسیې موجودې وې.

له دې جملې څخه د (۳۳) دوسیو په اړه قضائي قرارونه صادر شوي، (۳۲) دوسیې فیصله شوې، (۳) مکتوبي مستردې شوې او پاتې دوسیې تر کار لاندې دي.

**د وثیقو برخه کې:**

د میدان وردګ ولایت محاکمو په یوه میاشت کې (۱۱۵) بلابیلې وثیقې هم اجرا کړې دي.

## د کابل ولایت ښاري ابتدائیه محکمې څلورو زونونو په یوه میاشت کې (۱۶۲۲) دوسیو ته رسېدنه کړې ده

د کابل ولایت ښاري ابتدائیه محکمې اړوند څلورو زونونو په یوه میاشت کې (له ۱ / ۱۲ / ۱۴۴۷هـ ق څخه تر ۳۰ / ۱۲ /۱۴۴۷هـ ق) پورې په جزائي، حقوقي او تجارتي برخو کې (۱۶۲۲) دوسیو ته رسېدنه کړې ده؛ چې جزئیات یې په لاندې ډول دي:

**د جزائي دوسیو په برخه کې:**

د کابل ښاري ابتدائیه محاکمو څلورو زونونو ته په یوه میاشت کې ( ۱۰۲۴) جزائي دوسیې واردې شوې؛ په داسې حال کې چې مخکې هم یو شمېر دوسیې موجود وې.

له دې جملې څخه د (۱۵۸) دوسیو په تړاو قضائي قرارونه صادر شوي، (۶۱۰) دوسیې فیصله شوې، (۱۰۷) دوسیې مکتوبي مستردې شوې او پاتې دوسیې تر کار لاندې دي.

**د حقوقي دوسیو په برخه کې:**

د کابل ښاري ابتدائیه محاکمو څلورو زونونو ته په یوه میاشت کې (۴۵۸) حقوقي دوسیې واردې شوې؛ په داسې حال کې چې مخکې هم یو شمېر دوسیې موجود وې.

له دې جملې څخه د (۱۹۶) دوسیو په تړاو قضائي قرارونه صادر شوي، (۱۲۹) دوسیې فیصله شوې، (۹۹) دوسیې مکتوبي مستردې شوې او پاتې دوسیې تر کار لاندې دي.

**د تجارتي دوسیو په برخه کې:**

د کابل ښاري ابتدائیه محاکمو څلورو زونونو ته په یوه میاشت کې (۳۵۶) تجارتي دوسیې واردې شوې؛ په داسې حال کې چې مخکې هم یو شمېر دوسیې موجود وې.

له دې جملې څخه د (۱۴۸) دوسیو په تړاو قضائي قرارونه صادر شوي، (۱۳۴) دوسیې فیصله شوې، (۴۱) دوسیې مکتوبي مستردې شوې او پاتې دوسیې تر کار لاندې دي.

## د زابل ولایت محاکمو په دوو اونیو کې (۱۹۱) دوسیو ته پر رسېدنه سربېره، (۹۸) وثیقې هم اجرا کړې دي

د زابل ولایت د مرافعه، ښاري ابتدائیه، نظامي او د ټولو ولسوالیو ابتدائیه محاکمو په دوو اونیو کې (له ۱۶ /۱۲/ ۱۴۴۷هـ ق څخه تر ۳۰ / ۱۲/ ۱۴۴۷ ق) نېټې پورې (۱۹۱) دوسیو ته پر رسېدنه سربېره، (۹۸) وثیقې هم اجرا کړې دي؛ چې جزئیات یې په لاندې ډول دي.

**په حقوقي برخه کې:**

په دوو اونیو کې (۱۶۹) حقوقي دوسیې محاکمو ته راجع شوې؛ په داسې حال کې چې مخکې هم یو شمېر دوسیې موجودې وې.

له دې جملې څخه د (۵۷) دوسیو په اړه قضائي قرارونه صادر شوي، (۶۳) دوسیې فیصله شوې، (۲) دوسیې مکتوبي مستردې شوې او پاتې دوسیې تر کار لاندې دي.

**په جزائي برخه کې:**

په دوو اونیو کې (۷۷) جزائي دوسیې محاکمو ته راجع شوې؛ په داسې حال کې چې مخکې هم یو شمېر دوسیې موجودې وې.

له دې جملې څخه د (۲۹) دوسیو په اړه قضائي قرارونه صادر شوي، (۳۷) دوسیې فیصله شوې، (۳) دوسیې مکتوبي مستردې شوې او پاتې دوسیې تر کار لاندې دي.

**د وثیقو برخه کې:**

د زابل ولایت محاکمو په دوو اونیو کې (۹۸) بېلا بېلې وثیقې هم اجرا کړې دي.

## محاکم ولایت بادغیس طی یک ماه علاوه بر رسیدگی به (۶۷۲) دوسیه، به تعداد (۱۲۲) قطعه وثایق را نیز اجرا نموده‌است

محاکم مرافعه، وثایق، ابتدائیهٔ شهری و ابتدائیه ولسوالی‌های ولایت بادغیس طی یک ماه (از ۱/ ۱۲/ ۱۴۴۷هـ ق الی ۳۰/ ۱۲/ ۱۴۴۷هـ ق) علاوه بر رسیدگی به (۶۷۲) دوسیه، به تعداد (۱۲۲) قطعه وثایق را نیز اجرا نموده‌است که جزئیات آن به شرح ذیل می‌باشد:

**در بخش حقوقی:**

در جریان یک ماه به تعداد (۶۳۲) دوسیه حقوقی وارد محاکم گردیده؛ در حالی که قبلاً نیز چندین دوسیه تحت دوران قرار داشت.

از آن جمله در رابطه به (۳۱۹) دوسیه قرار قضائی صادر شده، (۶۰) دوسیه فیصله شده، (۴۹) دوسیه مکتوبی مسترد گردیده و دوسیه‌های باقی‌ماندهٔ دیگر تحت کار می‌باشد.

**در بخش جزائی:**

در جریان یک ماه به تعداد (۱۴۷) دوسیه جزائی وارد محاکم گردیده؛ در حالی که قبلاً نیز چندین دوسیه تحت دوران قرار داشت.

از آن جمله در رابطه به (۱۷۸) دوسیه قرار قضائی صادر شده، (۵۹) دوسیه فیصله شده، (۷) دوسیه مکتوبی مسترد گردیده و دوسیه‌های باقی‌ماندهٔ دیگر تحت کار می‌باشد.

**در بخش وثایق:**

در جریان یک ماه در محاکم ولایت بادغیس به تعداد (۱۲۲) قطعه وثایق مختلف النوع نیز اجرا گردیده‌است.

## د بلخ ولایت محاکمو په دوو اونیو کې (۷۳۴) دوسیو ته پر رسېدنه سربېره، (۵۷۸) وثیقې هم اجرا کړې دي

د بلخ ولایت مرافعه، ښاري ابتدائیه، د بلخ زون اختصاصي او د ټولو ولسوالیو ابتدائیه محاکمو په دوو اونیو کې (له ۲۷/ ۱۲/ ۱۴۴۷هـ ق څخه تر ۹ / ۱ / ۱۴۴۸ هـ ق) نېټې پورې (۷۳۴) دوسیو ته پر رسېدنه سربېره، (۵۷۸) وثیقې هم اجرا کړې دي؛ چې جزئیات یې په لاندې ډول دي.

**په حقوقي برخه کې:**

د بلخ ولایت محاکمو ته په دوو اونیو کې (۴۶۱) حقوقي دوسیې واردې شوې؛ په داسې حال کې چې مخکې هم یو شمېر دوسیې موجودې وې.

له دې جملې څخه د (۲۵۳) دوسیو په اړه قضائي قرارونه صادر شوي، (۷۳) دوسیې فیصله شوې، (۱۹۵) دوسیې مکتوبي مستردې شوې او پاتې دوسیې تر کار لاندې دي.

**په جزائي برخه کې:**

د بلخ ولایت محاکمو ته په دوو اونیو کې (۲۲۲) جزائي دوسیې واردې شوې؛ په داسې حال کې چې مخکې هم یو شمېر دوسیې موجودې وې.

له دې جملې څخه د (۸۵) دوسیو په اړه قضائي قرارونه صادر شوي، (۱۰۸) دوسیې فیصله شوې، (۲۰) دوسیې مکتوبي مستردې شوې او پاتې دوسیې تر کار لاندې دي.

**د وثیقو برخه کې:**

د بلخ ولایت محاکمو په دوو اونیو کې (۵۷۸) بېلابېلې وثیقې هم اجرا کړې دي.

## د پکتیا ولایت محاکمو په یوه میاشت کې (۴۷۸) دوسیو ته پر رسېدنه سربېره، (۱۷۰) وثیقې هم اجرا کړې دي

د پکتیا ولایت مرافعه، ښاري ابتدائیه، د پکتیا زون نظامي، اختصاصي او د ټولو ولسوالیو ابتدائیه محاکمو په یوه میاشت کې (له ۱/ ۱۲/ ۱۴۴۷هـ ق څخه تر ۳۰/ ۱۲/ ۱۴۴۷هـ ق) نېټې پورې (۴۷۸) دوسیو ته پر رسېدنه سربېره، (۱۷۰) وثیقې هم اجرا کړې دي؛ چې جزئیات یې په لاندې ډول دي.

**په حقوقي برخه کې:**

په ټېره یوه میاشت کې (۲۳۷) حقوقي دوسیې محاکمو ته راجع شوې؛ په داسې حال کې چې مخکې هم یو شمېر دوسیې موجودې وې.

له دې جملې څخه د (۱۰۶) دوسیو په اړه قضائي قرارونه صادر شوي، (۸۰) دوسیې فیصله شوې، (۲۰) دوسیې مکتوبي مستردې شوې او پاتې دوسیې تر کار لاندې دي.

**په جزائي برخه کې:**

په ټېره یوه میاشت کې (۲۸۴) جزائي دوسیې محاکمو ته راجع شوې؛ په داسې حال کې چې مخکې هم یو شمېر دوسیې موجودې وې.

له دې جملې څخه د (۱۲۰) دوسیو په اړه قضائي قرارونه صادر شوي، (۱۴۲) دوسیې فیصله شوې، (۱۰) دوسیې مکتوبي مستردې شوې او پاتې دوسیې تر کار لاندې دي.

**د وثیقو برخه کې:**

د پکتیا ولایت محاکمو په یوه میاشت کې (۱۷۰) بېلابېلې وثیقې هم اجرا کړې دي.

## د کندهار ولایت ښاري ابتدائیه محکمې په یوه میاشت کې (۴۱۱) دوسیو ته رسېدنه کړې ده

د کندهار ولایت ښاري ابتدائیه محکمې په یوه میاشت کې له (۱/ ۱۲/ ۱۴۴۷هـ ق څخه تر ۳۰/ ۱۲/ ۱۴۴۷هـ ق) نېټې پورې په حقوقي او جزائي برخو کې (۴۱۱) دوسیو ته رسېدنه کړې ده؛ چې جزئیات یې په لاندې ډول دي:

**په حقوقي برخه کې:**

د کندهار ولایت ښاري ابتدائیه محکمې په یوه میاشت کې (۶۹) حقوقي دوسیو ته رسېدنه کړې ده.

له دې جملې څخه د (۳۷) دوسیو په تړاو قضائي قرارونه صادر شوي او (۳۲) دوسیې فیصله شوې دي.

**په جزائي برخه کې:**

د کندهار ولایت ښاري ابتدائیه محکمې په یوه میاشت کې (۳۴۲) جزائي دوسیو ته رسېدنه کړې ده.

له دې جملې څخه د (۱۲۶) دوسیو په تړاو قضائي قرارونه صادر شوي او (۲۱۶) دوسیې فیصله شوې دي.

مسؤول مدیر: مولوي عبدالرحیم (راشد)
ادیتور : جوادالله (جاهد)
ډیزاین: حمیدالله (راسخ)

لا إله إلا الله محمد رسول الله

د افغانستان اسلامي امارت د سترې محکمې دغه ځرګندویه خپرونه
په میاشت کې درې ځله چاپیږي

## با تلاش رئیس محکمه مرافعه ولایت غزنی موضوع یک قتل و دشمنی (۴۵) ساله میان دو خانواده حل و فصل شد

با سعی و تلاش محترم الحاج مفتی عزیزالله (حیدری)، رئیس محکمه مرافعه ولایت غزنی و اعضای قضائی دیوان جزای آن محکمه، یک قضیه قتل و دشمنی که از مدت (۴۵) سال به این سو میان دو خانواده از باشندگان ولسوالی جانی‌خیل ولایت پکتیکا جریان داشت و در نتیجه آن، یک تن در ولسوالی آب‌بند ولایت غزنی به قتل رسیده بود، به تاریخ ۱۴۴۸/۱/۱۲ هـ.ق حل و فصل گردید.


این موضوع در دیوان جزا محکمه مرافعه تحت جریان قرار داشت، قضیه متذکره به تشویق رئیس محکمه مرافعه ولایت غزنی و اعضای قضائی دیوان جزاء آن محکمه به مصلحین راجع شد. مصلحین بعد از اخذ اختیار خط از جانبین قضیه، یک فیصله اصلاحی صادر نمود؛ موضوع مذکور بطور همه جانبه حل و فصل گردید و فیصله اصلاحی از طرف محکمه مرافعه تائید شد.

## با تلاش رئیس محکمه مرافعه ولایت کاپیسا موضوع قتل حل و فصل شد

با تلاش محترم مولوی عزیزالرحمن (حقانی) رئیس محکمه مرافعه ولایت کاپیسا، مولوی سراج الدین (راشد) رئیس دیوان جزا محکمه مرافعه، مولوی عبدالرؤف (سعادت) رئیس محکمه شهری، شیخ رحمت الله (مظهری) مفتی دیوان جزا مرافعه و مفتی فریدالله (بشار) رئیس دیوان مدنی مرافعه طی نشستی یک قضیه قتل از باشندگان قریه «شیرخانخیل» ولسوالی حصه‌اول کوهستان آن ولایت حل و فصل گردید.

در این نشست، ابتدا رئیس محکمه مرافعه اظهار داشت که زندگی در فضای آزاد و امن تحت چتر نظام شرعی و رهبری امارت اسلامی، نعمتی بزرگ و ارزشمند است، که شکرگزاری این نعمت و اطاعت از فرامین عالیقدر امیرالمؤمنین (حفظه‌الله) بر همه ما واجب می‌باشد.

سپس خانواده مقتول قاتل را فی سبیل الله مورد عفوه و بخشش قرارداد، دو طرف به رضاء و رغبت خویش یک ورق اصلاح خط را تقدیم به محکمه نمودند. در اخیر طرفین همدیگر را به آغوش کشیده آشتی نمود و مجلس با دعاء خیر به پایان رسید.



شماره:۲
تاریخ: ۱۴۴٦/۱/۱۸ هـ ق

## د لمانځه د اقامې په هکله د عالیقدر امیرالمؤمنین حفظه الله تعالی فرمان

**درېیمه برخه**

**پنځمه توصیه**

**له امام څخه په تکبیر تحریمه (اول الله اکبر) کې مه مخکې کېږئ:**

که مقتدي ټول (الله اکبر) تر امام مخکې ووایي، یا کلمه د (الله) د امام تر لفظ د (الله) ویلو مخکې ووایي، یا کلمه د (الله ) د امام سره یوځای ووایي، خو کلمه د (اکبر) د امام تر(اکبر) ویلو مخکې ووایي په لمانځه کې شروع یې نه صحیح کېږي، ترڅو چې بېرته تکبیر تحریمه یې نه وي ویلې.[1]

**شپږمه توصیه**

**رکوع او سجدې ته په تلو او را پورته کېدو کې له امام څخه مه مخکې کېږئ:**

رسول الله (صلی‌الله تعالی علیه وسلم) فرمایلي دي: ځوک چې تر امام مخکې له سجدې سر راپورته کوي هغه دې په دې ووېرېږي چې الله تعالی د هغه سر د خره سر وګرځوي، تر امام مخکې رکوع یا سجدې ته تلل او له امام څخه مخکې را پورته کېدل مکروه دي، زموږ فقهاء کرام (رحمهم الله تعالی) وایي کوم لمونځ چې له کراهیت سره اداء شي بېرته راګرځول یې واجب دي.[2]

**اوومه توصیه**

**تکبیر تحریمه په ولاړه وایاست:**

که امام مو په رکوع کې پیدا کړ تکبیر تحریمه به په ولاړه پوره کوئ، بیا به رکوع ته ځئ، که د رکوع په حالت کې یا په داسې حال کې چې رکوع ته دومره نږدې یاست چې لاسونه مو ځنګنو ته رسیږي، تکبیر تحریمه ووایاست لمونځ مو نه صحیح کېږي، ځکه د اول الله اکبر شرط دا دی چې په ولاړه به ویل کېږي، د هغه چا لپاره چې د ولاړې قدرت لري.[3]

**اتمه توصیه**

**له تکبیر تحریمې وروسته سمدستي لاس تر نامه لاندې تړئ:**

ځینې خلک چې تکبیر تحریمه (اول الله اکبر) ووایي لاسونه لاندې ایله کړي، بیا یې بېرته راپورته کړي او ترنامه لاندې یې کښېږدي، دا کار د سنتو خلاف دی، ځکه له تکبیر تحریمې وروسته سمدستي لاسونه تر نامه لاندې نیول سنت دي.[4]

**نهمه توصیه**

**د انتقالاتو تکبیرات به د انتقال په حالت کې وایاست:**

لمونځ کوونکی چې له ولاړې رکوع ته ځي یا له رکوع څخه وروسته سجدې ته ځي، الله اکبر به په پورته یا کښېنستلو کې پوره کوي، رکوع یا سجدې ته به یې نه رسوي؛ ځکه تکبیرونه د انتقال په حالت کې سنت دي.[5]

**لسمه توصیه**

**په لمانځه کې آرام درېږئ، په خپلو جامو یا بدن لوبې (بازی) مه کوئ:**

په لمانځه کې بې له عذره په سر، مخ، نور بدن او جامو باندې یو یا دوه واره لاس وهل مکروه دی او د لمانځه راګرځول وربانديې واجبېږي. که لمونځ کوونکي درې واره پیوسته په بدن یا جامه لاس ووهي لمونځ یې فاسدېږي.[6]

**والسلام علیکم ورحمة الله وبرکاته!**

**امیرالمؤمنین شیخ القرآن والحدیث**

**مولوي هبة الله اخندزاده (حفظه الله تعالی)**

---

۱ - (ویسن مقارنة إحرام المقتدي الخ) لكن يشترط أن لا يكون فراغه من الله أو من أكبر قبل فراغ الإمام منهما فلو فرغ من قوله الله مع الإمام أو بعده وفرغ من قوله أكبر قبل فراغ الإمام منه لا يصح شروعه في أظهر الروايات وهو الأصح لأنه إنما يكون شارعا بالجملة ولا يدرك فضلية التحريمية مع الإمام عند الإمام إلا بالمقارنة في الإحرام. حاشية الطحطاوي على مراقي الفلاح شرح نورالإيضاح ط - أخرى(ص:۱۷۲)
ويكبر المقتدي مع الإمام فإن قال المقتدي الله أكبر وقوله وقع قبل قول الإمام ذلك قال الفقيه أبو جعفر رحمه الله تعالى الأصح أن لايكون شارعاً عندهم وكذلك لو أدرك الإمام في الركوع فقال الله اكبر إلا أن قوله الله كان في قيامه وقوله أكبر في ركوعه لا يكون شارعاً في الصلاة وأجمعوا على أن المقتدي لو فرغ من قول الله قبل فراغ الإمام عن ذلك لا يكون شارعاً في الصلاة في أظهر الروايات. فتاوى قاضيخان (۴۱/۱)
ولو كبر قبل إمامه لا تجوز صلاته ما لم يجدد؛ لأنه اقتدى بمن ليس في صلاة فلا يدخل في صلاته و لا في صلاة نفسه على الصحيح؛ لأنه قصد المشاركة وهي غير صلاة الإنفراد ولو افتتح ب "الله" قبل إمامه لم يصر شارعا في صلاته؛ لأنه صار شارعاً في صلاة نفسه قبل شروع الإمام، ولو مد الإمام التكبير وحذف رجل خلفه ففرغ قبل فراغ الإمام اجزأه على قياس قولهما وعلى قول أبي يوسف لا يجزئه، ولو كبر المؤتم ولم يعلم أنه كبر قبل الإمام أو بعده فإن كان أكبر رأيه أنه كبر قبله لا يجزئه وإلا أجزأه؛ لأن أمره محمول على الصلاح حتى يتبين الخطأ بيقين أو بغالب الظن، كذا في المحيط، والمراد بقولهما: أن الشروع يصح ب "الله" بدون "اكبر" وقال أبو يوسف لايصح إلا بهما كما صرح به في التجنيس هنا. البحر الرائق شرح كنز الدقائق ومنحة الخالق وتكملة الطوري (۳۰۸/۱)
۲ - عن أبي هريرة قال: قال رسول الله صلى الله عليه وسلم: " أما يخشى- أو ألا يخشى – أحدكم إذا رفع رأسه والإمام ساجد أن يحول الله راسه راس حمار أو صورته صورة حمار" رواه ابو داود رقم الحديث (٦۲۳)
ويكره أن يرفع رأسه من الركوع والسجود قبل الإمام؛ لقوله – صلى الله عليه وسلم – "إنما جعل الإمام ليؤتم به فلا تختلفوا عليه". بدائع الصنائع في ترتيب الشرائع (۲۱۸/۱)
(قوله ولو ركع مقتد فأدركه إمامه فيه صح) وقال زفر لايجزئه ...... وذكرالمصنف في الكافي في مسألة الكتاب أنه يصح ويكره لقوله – عليه الصلاة والسلام – "لا تبادروني بالركوع والسجود" وقوله – عليه السلام – أما يخشى الذي يركع قبل الإمام ويرفع أن يحول الله رأسه رأس حمار" اهـ. وهو يفيد أنها كراهة تحريم للنهي المذكور. البحرالرائق شرح كنز الدقائق ومنحة الخالق وتكملة الطوري (۸۲/۲)
۳ - (قائما) فلو وجد الإمام راكعا فكبر منحنيا، إن إلى القيام أقرب صح ولغت نية تكبيرة الركوع. (قوله قائما) أي في الفرض مع القدرة على القيام ح. (قوله إن إلى القيام أقرب) بأن لا تنال يداه ركبتيه كما مر. الدرلمختار و حاشية ابن عابدين (رد المختار) (۴۸۰/۱-۴۸۱)
٤ - (ووضع) الرجل (يمينه على يساره تحت سرته آخذا رسغها بخنصره وابهامه) هو المختار، وتضع المراة والخنثى الكف على الكف تحت ثديها( كما فرغ من التكبير) بلا إرسال في الأصح.
(قوله كما فرغ) هذه كاف المبادرة تتصل بما نحو: سلم كما تدخل، نقلها في مغني اللبيب. (قوله بلا إرسال) هو ظاهر الرواية. الدرالمختار و حاشية ابن عابدين (رد المحتار) (۴۸۷/۱)
قوله: "ويسن وضع الرجل يده اليمنى" كما فرع من التكبير للإحرام بلا إرسال. حاشية الطحطاوي على مراقي الفلاح شرح نورالإيضاح (ص: ۲۵۸)
(ووضع يده اليمنى على اليسرى تحت السرة) كما فرغ من التكبير. هكذا في المحيط ناقلا عن الإمام خواهرزاده و هكذا في النهاية. الفتاوى الهندية (۷۳/۱) الفصل الثالث في سنن الصلاة وآدابها
٥ - (قوله ثم يكبر) أتى بثم للإشعار بالاطمئنان فانه سنة أو واجب على ما اختاره الكمال (قوله مع الخرور) بأن يكون ابتداء التكبير عند ابتداء الخرور وانتهاؤه عند انتهائه شرح المنية. الدرالمختار وحاشية ابن عابدين (ردالمحتار) (۴۹۷/۱)
قوله: خافضاً؛ حال من فاعل يكبر، أي حال كونه منحطا للركوع، أشار به إلى استنان كون التكبير مع الانحطاط، وهذا هو الأصح، كما في (النهر الفائق) وصحح في (المنية) كون ابتدائه عند ابتداء الخرور، وانتهائه عند انتهائه. عمدة الرعاية بتحشية شرح الوقاية (۲۷۹/۲)
ويكره أن يأتي بالأذكار المشروعة في الانتقال بعد تمام الانتقال لأن فيه خللين تركه في موضع وتحصيله في غيره. حاشية الطحطاوي على مراقي الفلاح شرح نور اليضاح (ص:۳۵۱)
٦ - (وكره عبثه بثوبه أو بدنه) أي عبث المصلي بثوبه وبدنه والهاء فيهما وفيما قبلهما من الكلمات راجعة إلى المصلي وإن لم يكن مذكورا؛ لأن المعنى يدل عليه وإنما كره العبث لقوله - عليه الصلاة والسلام - "إن الله كره لكم ثلاثا العبث في الصلاة والرفث في الصيام والضحك في المقابر" وقال - صلى الله عليه وسلم - إن في الصلاة شغلا" "ورأى رسول الله – صلى الله عليه وسلم – رجلا يعبث في الصلاة فقال لو خشع قلب هذا لخشعت جوارحه ". تبيين الحقائق شرح كنز الدقائق وحاشية الشلبي (۱٦۲/۱) ط المطبعة الكبرى الأميرية – بولاق، القاهرة
(وكره عبثه بثوبه وبدنه) لما أخرجه القضاعي مرسلاً عن يحيى بن كثير عنه عليه الصلاة والسلام (أن الله كره لكم ثلاثاً العبث في الصلاة والرفث في الصوم و لضحك في المقابر) وقد منا أن الكراهة المطلقة يراد بها التحريم. النهر الفائق شرح كنز الدقائق (۲۷۷/۱) ط دارالكتب العلمية.
مطلب في الكراهة التحريمية والتنزيهية (قوله هذه تعم التنزيهية إلخ) قال في البحر: والمكروه في هذا الباب نوعان . أحدهما: مايكره تحريما وهو المحمل عند إطلاقهم كمافي زكاة الفتح، وذكر أنه في رتبة الواجب لا يثبت إلا بما يثبت به الواجب. الدر المختار و حاشية ابن عابدين (ردالمحتار) (٦۳۹/۱) دارالفكر بيروت
مطلب كل صلاة أديت مع كراهة التحريم تجب إعادتها: (قوله وكذا كل صلاة إلخ) الظاهرأنه يشمل نحو مدافعة الأخبثين مما لم يوجب سجودا أصلا، وأن النقص إذا دخل في صلاة الإمام وثم يجبر وجبت الإعادة على المقتدي أيضا. الدر المختاروحاشية ابن عابدين (ردالمحتار) (۴۵۷/۱) دارالفكر بيروت .
وعن السرخسي: من ترک الاعتدال تلزمه الإعادة، ومن المشايخ من قال: تلزمه ويكون الفرض وهوالثاني، ولا إشكال في وجوب الإعادة إذ هو الحكم في كل صلاة أديت مع كراهة التحريم ويكون جابرا للأول لأن الفرض لايتكرر. فتح القدير للكمال ابن الهمام (۳۰۱/۱) دارالفكر بيروت
(والعمل الكثير) واختلف في حده قيل: هو ما يحتاج إلى اليدين، وقيل: ما يشك الناظرأن عامله في الصلاة أو لا وهو اختيار العامة، وقيل مايكون ثالثا متواليا حتى لو روح على نفسه بمروحة ثلاثا أو حك موضعا من جسده ثلاثا تفسدان على الولاء. (مجمع الأنهرفي شرح ملتقى الأبحر (۱۲۰/۱)

میزان

د لیکوال پلاوي تر څارنې لاندې

پته : ستره محکمه، د بهرنیو، عامه اړیکو او مطبوعاتو ریاست

publications.sc۱٤٤۳@gmail.com
www.supremecourt.gov.af

د ټلیفون شمېرې: ۰۲۰۲۳۰۰۳٦۱
۰۲۰۲۳۰۲۲٦۳